د حمل میاشت ۱۴۰۴
**دویمه برخه:**



# د سیمې په کچه حکومتي جوړښتونه، د سیمه ییزې حکومتولۍ موډلونه

## د افغانستان لپاره ترېنه ساختاري اخېستنه او قابل تقلید اړخونه یې

**محمدآصف ننګ**، له پکتیکا څخه
د اقتصاد څېړندوی مشر


## د ایران اوسنی سیاسي او دولتي جوړښت

د ایران د معاصرې او مدرنې حکومتولۍ تسلسل په تیرو سلو کلونو کې د غور وړ ده، د رضا شاه پهلوي ۲۸ کلنه شاهي دوره او د جمهوري اسلامي ۴۶ کلنه دوره او تر هغه مخکې د محمد علی شاه او د هغه د زوی احمدشاه دوره چې له ۱۲۸۸ تر ۱۳۰۴ پورې یې سلطنتي پاچاهي وکړه او په پای کې د ایران د ملي شورا د مجلس لخوا له واک برکناره او د قاجاري کورنۍ دغه وروستی پاچاهي له منځه لاړه.
په همدې کلونو کې د دولت هغه تر ټولو متعارفه بڼه همدا اوسنیې د جمهوري اسلامي دوره ده چې د دولت ارکان او ارجاء یکې نسبتاً دیموکراته شکل نیولی، البته د ساختارونو له لحاظ د ایران اوسنی نظام د کنترول، توازن، مراقبت او ځوابدهۍ له پلوه د غور او مطالعې وړ دی، د ایران د شاهي دورې حکومتولي ځکه تر ژورلید لاندې نشو نیولی چې غالباً د یوې کورنۍ پاچاهي وه، مطلقاً دستور او نظام د شاه تر اثر لاندې و، داسې نظامونه په معاصرو حکومتونو کې نه راځي.
مګر باید په دې تول او ترازو کې د رضاشاه پهلوي د دورې اقتصادي وده او نړیوالې اړیکې د ایران په معاصر تاریخ کې یوه بې سارې دوره ده. اقتصادي وده، د نفت ملي کیدل، صنعتي او زراعتي جهاد، د تعلیم جهاد، اقتصادي جهاد، عدالت د ټولو لپاره او د ګڼو رعیت محوره قوانینو تدوین او تصویب د فقید شاه هغه حسابي پرمختګونه دي چې تر نن پورې ایراني

نظامونه يې له برکته تداوم او ثبات موندلی، که د رضا شاه دغه څو مدرنه میراثونه نه وای‌ې مطمیناً چې اوسني آخوندي رژیم به په مذهب محوره حکومتولۍ قطعاً نشوای کولی د ایراني ولس معاصره غوښتنو ته ځواب ویلی شوای.

د ایران د دولت او حکومت اوسني مروج او نافذ سیستمونه سره له ګڼو نواقصو یو ډېر ښه موډل هم دی چې د افغانستان په شان مذهبي ټولنه د حکومت په جوړښتونو کې ترېنه ګټه پورته کولی شي، طبعاً د هر غوره تقلیدي موډل او سیاسي جوړښتونو انتخابول بیاهم اصلاحات، انطباق او سمون غواړي، هم په تقنیني لحاظ او هم په محتوای لحاظ او هم د واکونو په اعتدالي ګرځولو کې يې که معناداره او د وخت له تقاضاوو سره سم ادلون بدلون پکې باید راشي، کیدای شي تر ډېرو غربي لیبرال موډلونو همدا د ایران او پاکستان موډلونه د افغانستان په ځېر هېواد کې نسبتاً بهتره عمل وکړي.

دا چې حکومتي جوړښتونه او قوانین د متغیره پدیدو په حیث همیشه د کمال او جمال قابلیت لري، نو د نظامونو لپاره د موډلونو انتخاب او تداوم يې ثابت امر ندی، د وخت له بدلون او د وخت له غوښتنو سره سم هر نظام د انکشاف او تغیر وړتیا باید ولري.




د ایران دولتي او حکومتي جوړښتونه تر یوه حده پیچلي او ضمناً داسې مختلط سیاسي سیستم لري چې د مختلفو بنسټونو او مقامونو ترمنځ تقسم او تفکیک شوي دي. د ایران حکومت د اسلامي جمهوریت او «ولایت فقیه» پر اساس جوړ شوی دی. ولایت فقیه د ټولې نړۍ د شیعه ګانو مرشد او مرجع بلل کیږي، دا یوه نړیواله مرجع ده.

دلته د ایران د حکومتي جوړښت او د واکونو د تمرکز په هکله اولاً معلوماتي برخه يې شریکوم، وروسته به يې د طالبانو له نظام او محتوا سره شباهتي اړخ هم تشریح کړم.


**لومړی، مذهبي روحاني مشر یا ایدلوژۍ محوره حکومتولي**

**«ولایت فقیه»**

په ایران کې د حکومت مذهبي واکمني عمدتاً د «ولایت فقیه» پر بنسټ ولاړه ده، په دې سیستم کې د فقیه علماوو د سرمشر یا سالار الفقها لخوا حکومت او په مجموعي کې دولتي چارې پرمخ وړل کېږي. په حقیقت کې، د ایران روحاني رهبر، چې د ولایت فقیه لقب لري، د حکومتدارۍ او د تشیع د امامت په اړه تر ټولو لوړ او جامع صلاحیت لري.

د انقلاب رهبر یا روحاني رهبر د ایران (او هم د تشیع د امامت) لوړترین مقام په ګڼل کېږي دی په حقیقت کې د ټولو سیاسي، دیني، او نظامي چارو کنترول په خپل اختیار کې لري. د ایران روحاني رهبر یو مادام العمر منصب دی، مګر دا چې د اخلاع ځانګړې شرایط پرې برابر شي...لکه صعب العلاجه بیمارۍ، ملي خیانت، کهولت، داوطلبانه موجه استعفاء او...

د رهبر ټاکنه د دولت د خبره ګانو د مجلس یا «شورای خبره ګان» لخوا د یوه ډېر پېچلي میتود او مغلقې کړنلارې په واسطه ترسره کیږي، خو دغه شورا بیرته په خپل وار سره خپل صلاحیتونه د دوی له لورې د ټاکل شوې روحاني رهبر له لارې ترلاسه کوي.



**دویم، اجرائیوي حکومتولي**

**2. ولسمشر یا جمهور رئیس:**

- جمهور رئیس یا ولسمشر د ایران د اجراییه قوا مشر دی. د جمهور رئیس ټاکنه د مستقیمو ټاکنو له لارې کېږي.
- جمهور رئیس د دولت اجراییه چارو لکه د وزارتونو، اقتصادي پروګرامونو او د بهرنیو چارو لپاره مسؤل دی.
- سره له دې چې جمهور رئیس یو لوړ مقام لري، د روحاني رهبر په پرتله د کمې واک وړاندی کوي.


وظایف نظام
جمهوری اسلامی
بر اساس قانون اساسی جمهوری اسلامی ایران، برای نیل به قسط و عدل، استقلال سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و همبستگی ملی به عنوان اهداف نظام سیاسی، دولت مکلف به انجام وظایفی شده است. در این اینفوگرافیک که توسط پژوهشکده شورای نگهبان تهیه شده، وظایف نظام جمهوری اسلامی ایران در اصل سوم قانون اساسی مرور می‌گردد.
پژوهشکده شورای نگهبان
تنظیم سیاست خارجی کشور
براساس معیارهای اسلام، تعهد برادرانه نسبت به همه مسلمان و حمایت بی دریغ از مستضعفان جهان
توسعه و تحکیم برادری اسلامی و تعاون عمومی بین همه مردم
تأمین حقوق همه جانبه افراد از زن و مرد و ایجاد امنیت قضایی عادلانه برای همه و تساوی عموم در برابر قانون
تأمین خودکفایی
در علوم و فنون صنعت و کشاورزی و امور نظامی و...
پی ریزی اقتصادی صحیح و عادلانه
بر طبق ضوابط اسلامی و هدف، ایجاد رفاه و رفع فقر و هر نوع محرومیت در زمینه تغذیه و مسکن و کار و بهداشت و تعمیم بیمه
تقویت کامل بنیه دفاع ملی
از طریق آموزش نظامی عمومی برای حفظ استقلال و تمامیت ارضی و نظام اسلامی کشور
تأمین آزادی های سیاسی و اجتماعی
در حدود قانون
مشارکت عامه مردم
در تعیین سرنوشت سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی خویش
رفع تبعیضات ناروا و ایجاد امکانات عادلانه
برای همه در تمام زمینه های مادی و معنوی
ایجاد نظام اداری صحیح و حذف تشکیلات غیر ضرور
طرد کامل استعمار و جلوگیری از نفوذ اجانب، محو هرگونه استبداد و خودکامگی و انحصار طلبی
تقویت روح بررسی و تتبع و ابتکار
در زمینه های علمی، فنی، فرهنگی و اسلامی از طریق تأسیس مراکز تحقیق و تشویق محققان
آموزش و پرورش و تربیت بدنی رایگان
برای همه در تمام سطوح تسهیل و تعمیم آموزش عالی
بالا بردن سطح آگاهی های عمومی
در همه زمینه ها با استفاده صحیح از مطبوعات و رسانه های گروهی و وسایل دیگر
ایجاد محیط مساعد برای رشد فضایل اخلاقی
براساس ایمان و تقوی و مبارزه با کلیه مظاهر فساد و تباهی

## دریم، تقنیني حکومتولي

### 3. مجلس شورا یا پارلمان

- د ایران پارلمان د "مجلس شورای اسلامي" په نامه یادېږي. دغه پارلمان له ۲۷۰ غړو څخه جوړ شوی دی چې د خلکو له خوا د آزادو، سري او سراسري انتخاباتو له لارې ټاکل کېږي.
- پارلمان د قوانینو د جوړولو، له قوانینو د نظارت، د قوانینو د ساده تفسیر، د بودیجې د تاییدولو، د حکومت د کړنو د څارنې او د اجراییه قوا له رسمي چارو د نظارت وظیفه او صلاحیت لري.
- د پارلماني غړې په توګه راتګ د انتخاباتي سیستم له مخې چې د مستقیمو، سري او سراسري ټاکنو پر اساس ترسره کیږي، میسر کیدای شي، خو تر څنګ یې ځینې غړې او کاندیدان باید د روحاني رهبر لخوا تایید شي، که تائید نشي د عوامو رایه هم له اعتبار فاقده کیږي.

## څلورم، شورایې حاکمیت او د نخبه ګانو سلطه

### 4. شوراهای نگهبان Guardian Council

- شوراهای نگهبان د ایران یوه مهمه دیني-سیاسي اداره ده چې د ایران د اساسي قانون او اسلامي احکامو له مخې د هېواد ټول فرعي قوانین، میثاقونه، قراردادونه، پریکړې او رسمي مصوبې منطبق کوي او هم یې تاییدوي.
- شوراهای نگهبان د ۱۲ غړو څخه جوړه شوې ده، چې ٦ غړي یې د روحاني رهبر لخوا ټاکل کېږي او ٦ نور یې د ایران د پارلمان له خوا ټاکل کېږي.
- د شورا له مهمو دندو یوه دا ده چې دوی ګورې چې د پارلمان لخوا جوړ شوې قوانین او مصوبات له اساسي قانون او اسلامي شریعت سره سمون لري که نه، او دا چې د ولسمشر، پارلمان او نورو مقاماتو له خوا وړاندیز شوي کاندیدان د ټاکنو لپاره اهلیت او وړتیا لري که نه، طبعاً چې د شورا ګڼ نور صلاحیتونه هم شته چې دلته یې ټول تفصیلات نه شو راوړلی.

## پنځم، عدلي او قضایې نظام

### 5. قضائیه قوه

- قضائیه قوه د ایران د عدلي سیستم تر ټولو ستره مرجع دی، قضائیه قوه د ایران په عدالتي سیستم کې د بېلا بېلو حقوقي پروسیجرونو، قانوني چارو، د ابرا او الزام د تعین او همدارنګه د جزایې محاکمو او قضایي مراحلو د اجرا او پلې کیدو مسوولیت لري.
- د قضائیه قوه مشر یا قاضي القضات د روحاني رهبر لخوا ټاکل کېږي. جزایې اجراات او قضایې پریکړې د اسلامي شریعت او د ایران د اساسي قانون پر بنسټ ترسره کېږي.

**6. دولت او اقتصادي سیستم**

- د ایران په حکومتي جوړښت او دولتدارۍ کې د «اسلامي اقتصاد» ځای او مرتبه ډېره لوړه ده. پدې معنی چې د ایران حکومت په ټولو اقتصادي چارو او فعالیتونو کې د اسلامي اصولو او فقهي احکامو پر بنسټ تصمیم نیسي، لکه د ربوي سود منع کول او د اسلامي صدقاتو، زکات، تبرعاتو، عشر او... مګر سره له دې هم د ایران د دولت رسمي بنسټونو او خصوصي سکتور یو د بل ترمنځ ګڼ اړخیزه اقتصادي تعاملات او اړیکې سره پخپلو کې لري چې دغه اساسات یې په مخکې کوم خاص محدودیت ندی ایجاد کړی.

**7. پوځي او نظامي تشکیلات، د دولتي ژورتابه اصلي ځواک**

د ایران د اسلامي انقلاب د پاسدارانو یا ساتونکو ډله IRGCهم یوه مهمه ځواکمنه اداره ده چې د ایران د نظامي، امنیتي او سیاسي مسایلو په اړه خپل قوي اثر لري. په اصل کې «سپاه پاسداران» د ایران د انقلاب د ارزښتونو د ساتنې لپاره جوړ شوی خو په ایران کې د ننه او هم په سیمه ییزه او نړیواله کچه په دولتي چارو کې خورا فعاله او حتی د ځینو هېوادو په سیاسي او امنیتي سرنوشت کې ژور اثر لري.

**په ایران کې سیمه ییزه حکومتولي**


سیمه‌ییزه حکومتولي په ایران کې د حکومتي جوړښت یوه مهمه برخه ده چې د هیواد د مختلفو سیمو د ادارې، اقتصادي، سیمه ییزه، ولسي او مذهبي چارو مدیریت کوي. ایران د یو مرکزي حکومت له لارې اداره کېږي، خو په عین وخت کې په ځینو سیمو او ایالتونو کې د سیمه‌ییزو مقاماتو لخوا ځینې سیاسي او اجرائیوي چارې ترسره کېږي. د ایران په سیمه‌ییزه حکومتولي کې بېلابېلې ادارې، سیستمونه او مقامات شتون لري چې د مختلفو سیمو د اړتیاو او غوښتنو په اساس کار کوي، مګر د ولایتي او سیمه ییزه استقلالیتونو با وجود چې د پلان جوړونې او سیمه ییزه لومړیتوبونو ته ارجیحیت ورکول کیږي خو لدې سره سره د ایران بودجه او تطبیق یې مرکزي دي، اصول او اساسات مرکزي دي، پالیسۍ او انتخاب یې مرکزي دي او هم د دولت د چارو حسابدارۍ او راپورګیرۍ مرکزي اعتبار لري.

**د ایران د سیمه‌ییزه حکومتولي جوړښتونه**

**لومړی، ولایتونه یا اُستانونه**

- ایران د ۳۱ ایالتونو یا اُستانونو څخه جوړ شوی دی. هر ولایت د یو ولایتدار (والي) یا اُستاندار لخوا اداره کېږي چې د مرکزي حکومت لخوا ټاکل کېږي.
- استاندار یا والي د ولایتي ادارې د ټولو اجرائیوي چارو مسئولیت لري خو ددې باوجود په عمده مسایلو او تصامیمو کې له مرکزي حکومت سره په همغږي کار کوي. البته چې د اُستاندار د ټاکنې پروسه د مرکزي حکومت په غاړه ده، نه د محلي خلکو او نه هم دغه مقام انتخابي دی.

- هر ولایت یا اُستان خپله سیمه‌ییزه اداره، تشکیلات او د مربوطه چارو لپاره ځینې صلاحیتونه لري، خو مرکزي حکومت  د ایالتونو په سیاستونو او اقتصادي چارو کې خپل ټاکونکی رول او تاثیر لري.




**دویم، ولسوالۍ یا شهرستانونه**

- هر ولایت په څو ولسوالیو «شهرستانونو» او هم په ځانګړو ښاروالیو تقسیم شوی دی د هرې ولسوالۍ یا ښار شهردار او ولسوال د «ښاري شورا» له لارې په اوله مرحله کې د ټاکنو له لارې او بیا د شورا د ننه د اکثریت رایو په اساس د شورا مشر ټاکل کیږي چې پدې توګه شهرستانونه یا ولسوالۍ او ښاروالۍ د نسبتاً انتخابي سیستم په واسطه اداره کېږي.
- د ښاري شورای غړې د خلکو د رایو او آزادو ټاکنو له لارې ټاکل کیږي، او د دې شورا دنده دا ده چې د ښار یا ولسوالي اړوند مسایل لکه د ښار جوړونې، محلي خدمات، تعلیم، او عامه خدمتونو ته رسیدګي ده....دغه شورا په مجموع کې د ولسوالیو اوله درجه واکمنان او مسوولین بلل کیږي. د ولسوالیو د مشرتابه غړو، لکه ښاروال او ولسوال ترڅنګ د هر ولسوالي اجراییه او د اداري چارو مسؤلین د همدې شوراګانو لخوا، بلکې غالباً د همدې شوراګانو د غړو له منځ څخه هم ټاکل کېږي.

**دریم، په سیمه ییزه حکومتولۍ کې اسلامي شوراګانې**

- «شوراهای اسلامی» یا اسلامي شوراګانې د ایران د هر ښار، ولسوالي او حتی د کلي په کچه ټاکل کېږي. دا شوراګانې د سیمه‌ییزو ادارو لپاره د تصمیم نیونې او نظارت دندې لري.

- هره شورا او غړې یې د ښار یا ولسوالي د خلکو لخوا ټاکل کېږي، د دې شورا دنده د سیمې د ټولګټو مسایلو، منطقوي خیرښیګڼو فعالیتونو او د حکومتولۍ د چارو په هکله خدمت کوي.

**څلورم، مرکزي حکومت او پر سیمه ییزه ادارو یې د نظارت کچه**

- سره له دې چې د ایران په ځینو سیمو کې سیمه‌ییزه حکومتولي او سیمه ییزه صلاحیتونه او مقامونه شتون لري، خو مرکزي حکومت او روحاني رهبر د ایران په ټولو سیمو کې د سیاستونو او پلانونو په تنظیمولو کې لویه ونډه او اول درجه صلاحیت او قیومیت پرې لري. د مرکزي حکومت لخوا د سیمه‌ییزو ادارو له کارونو او اجرااتو څارنه او نظارت ترسره کیږي نو طبعاً سیمه ییزه ادارې مرکزي ادارو او رهبرۍ ته مسوول او ځوابده دي. پدې معنا چې د سیمه ییزه حکومتولۍ ټول جزي او مرتبط اجزا، لکه ولایت، ولسوالۍ، علاقه دارۍ او...دا ټول د ایران د ولایت فقیه سیستم تر تاثیر لاندې دي، د هر ولایت او ولسوالي سیمه‌ییزه چارواکي باید د روحاني رهبر د حکمونو له مخې د چارو او اجرااتو په ترسره کولو کې همغږي ولري.

**پنځم، په سیمه ییزه حکومتولۍ کې سیمه ییزه اقتصاد**

- په لوی بحث کې مو پورته تشریح کړه چې په ایران کې د اقتدار اصلي ثقل په مرکز کې دی خو بیا هم هر ولایت د ځینو ځانګړو اقتصادي فعالیتونو په اړه د تصمیم نیونې اختیارات لري، لکه له ځایی سرچینو د سیمه ییزه انکشافي پروژو په برخه کې ترینه ګټه اخیستنه، مثلاً په کرنیزه فعالیتونو کې، په صنعتي فعالیتونو او تر یوه حده د طبیعي منابعو په مدیریت کې ځینې خلاص لاس صلاحیتونه هم لري. خو معلومه دې وي چې د سترو اقتصادي مسایلو او په پروژو په اړه تصمیم نیونه په مرکزي حکومت پورې تړاو لري.

**شپږم، د سیمه‌ییزه حکومتولۍ په وړاندې محدودیتونه او چیلنجونه**

- محدود صلاحیتونه: د ایران سیمه‌ییزه ادارې او مقامات په اکثرو مواردو کې د مرکزي حکومت تر کنټرول لاندې فعالیت کوي. سیمه‌ییزه مقامات د مرکزي حکومت له تصویب پرته په ځینو ستراتیژیکو برخو کې په خپلواکه توګه تصمیم نه شي نیولی.
- د مرکزي حکومت اثر او رسوخ: د ایران په سیاسي سیستم کې د «ولایت فقیه د مقام او روحاني رهبر» د واکونو او صلاحیتونو پراخوالی دومره ژور او هر اړخیز دی چې طبعاً د سیمه‌ییزه حکومتولۍ قدرت او صلاحیت محدودوي د رهبرۍ مقام د ټول هیواد په کچه په مرکزي، محلي ادارو او هم د منتخبو شوراګانو په اړه لوی تاثیر او ژور نفوذ پرې لري.

**لنډه دا چې**، له مرکز نیولې آن د سیمه‌ییزه حکومتولي تړولې ذیربطه اداري او فرعي منطقوي اجزا یې په ایران کې د مرکزي حکومت تر نظارت لاندې فعالیت کوي. د ایالتونو او ښارونو د اول درجه مقاماتو ټاکنه، د هغوې د اهلیت تائید او مالی او اداري ملاتړ د مرکزي حکومت لخوا ترسره کېږي، خو سیمه‌ییزه شوراګانې او اداري د ځایی خلکو د ګټو لپاره د هغوی استازیتوب کوي. د ایران موجوده حکومتولۍ او مروج اداري او رهبري سیستم یو کاملاً د اړوند فقهي اصولو او د دوی د رسمي اسنادو له مخې د شرعي احکامو له مخې یو داسې اسلامي جمهوریت دی چې په هغې کې د ولایت فقیه د مقام واکونه د مطلقیت تر حده پراخ او ټاکونکي دي.

د ایران موجوده آخوندي سیستم تر ډیره حده د اسلامي امارت له موجوده سیستم سره ډیر شباهت لري، د مرکزي او محلي حکومتونو د واکونو محدودیت، پلانګذارۍ، امام محوري، د اطاعت وجوبیت، د لیبرال دیموکراسۍ په هکله د نظریاتو تشابه او داسې ډیر نور مسایل...خو د دې باوجود په ایران کې سیاسي اداره او تشکیلات له تخنیکي او مسلکي ادارو او تشکیلاتو سره تفکیک شوې، د ولسمشرۍ انتخابات، د پارلمان او انتخاباتي شوراګانو موجودیت، اقتصادمحوري او داسې ډیر نور مسایل په ایران کې شته خو فعلاً په افغانستان کې نشته، حتی د روحاني رهبر مقام هم په یو ترتیب که وګورو هغه هم ټاکنیز او د یوې ډلې تائید ته ضرورت لري.

په ایران کې د اساسي قانون، مستقل عدلي نظام، د قوانینو حاکمیت او بالا دستي، رعیتي حقوق، د تعلیم ارزښت، د امنیت او دفاع په برخه کې یې پرمختګونه او فعالیتونه هغه ستر امتیازات دي چې فعلاً افغانستان پدې برخه کې لا حسابي پرمختګ ندی کړی.


**ماخذونه:**

- ایران شناسی، داکتر محمد رضا سعیدی
- www.go2tr.com/Iran
- https://fa.wikipedia.org/wiki/ایران
- تشکیل دولت ملی در ایران، لیکوال والتر هینس
- اقتصاد و دولت در ایران، لیکوال موسی غنی نژاد
- قدرت و بازار (دولت و اقتصاد)، لیکوال مورای ان. روتبارد